# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


یکشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۳۰مه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۰مه | دویم کال| ۳۲۰مه گڼه


2 017550 139621

پوهنتون

۴ مخ

## نورستان؛ پوازینی هغه ولایت چې پوهنتون یا د لوړو زده کړو موسسه نه لري



## روان کال ۵ زره ټنه محصولات د هوایي دهلېزونو له لارې صادر شوي دي



د افغانستان د سوداگرۍ او صنایعو خونه وایي چې په روان کال کې ۵ زره ټنه بېلابېل محصولات د هوایي دهلېزونو له لارې صادر شوي دي.
د دې خونې مرستیال خان جان الکوزي پرون ازادي راډیو ته ویلي چې د هوایي دهلېزونو له لارې محصولات په کم وخت کې بهرنیو مارکېټونه ته رسېږي او په ښه بیه پلورل کېږي چې په یو ډول له بهرنیو محصولاتو سره د افغان محصولاتو د سیالۍ زمینه هم برابروي.
ښاغلي الکوزي زیاته کړې، له افغانستانه تر ډېره وچې او تازه مېوې، طبي بوټي، قرقل او ځینې نور محصولات هند، چین، دوبۍ، ترکیې او نورو هېوادونو ته صادرېږي.
د الکوزي په خبره، بهر ته د یادو محصولاتو په صادرولو سره د کروندگرو ستونزې تر ډېره حل شوې او د حکومت له دغه اقدام څخه هرکلی کوي.

## معترض نوماندان: د کابل تېرې ټاکنې له درغلیو ډکې وې، پایلې یې باید باطلې اعلان شي



۳

سوله د امریکا او پاکستان معاملې ته پاتې شوه؟

۲ مخ

په گډه سوله ساتو؛ د چین او افغانستان ترمنځ د رسمي اړیکو د ټینگېدو د ۶۴مې کلیزې په مناسبت

۲ مخ

## وکیلان: طالبان دې د بهرنیانو پر ځای له افغانانو سره خبرې وکړي

د افغان سولې په برخه کې د امریکا د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد د هڅو په لړ کې د ولسي جرگې غړي پر طالبانو غږ کوي، څو بین الافغاني مذاکراتو ته حاضر شي.
د ولسي جرگې د شنبې ورځې په بحث کې وکیلانو وویل چې د افغانانو له حضور پرته له طالبانو سره د نورو هېوادونو هر ډول خبرې به د کامیابۍ پرځای له ناکامۍ سره مخ وي، نو بهتره ده چې طالبان له افغانانو سره مخامخ خبرې وکړي.
د ولسي جرگې رییس عبدالرووف ابراهیمي په دې اړه وویل: «لومړی د سولې هر ډول خبرې باید د افغان حکومت تر مشرۍ لاندې وشي او په دویم قدم کې د افغانستان د تېرو اوولسو کلونو لاسته راوړنې وساتل شي».
د افغان سولې په برخه کې د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد پاکستان ته خپل سفر پای ته رسولی او له پاکستاني چارواکو سره یې پر افغان سوله خبرې گټورې بللې دي. په ورته مهال د حزب اسلامي مشر گلبدین حکمتیار هم وایي، سره له دې چې په کور دننه د سولې پر وړاندې خنډونه ډېر دي، خو بین الافغاني خبرې د ستونزې د حل یوازینۍ لاره ده.
د ولسي جرگې د شنبې ورځې په غونډه کې چې د شپاړسمې تقنیني دورې اووم کال پای ته ورسېد، وکیلان پر ژمنیو رخصتیو ولاړل.
وکیلانو همدارنگه وویل چې د ولسي جرگې په شپاړسمه تقنیني دوره کې د ډېریو وکیلانو تمرکز د ملي گټو پرځای پر قومي او سمتي مسایلو ورتول و.

## له امریکایي استازي سره په اسلام اباد کې خبرې نه کوو



۵ مخ

## امرالله صالح از سرپرستی وزارت امور داخله استعفا داد



امرالله صالح که حدود یک ماه قبل به عنوان سرپرست وزارت امور داخله تعیین شده بود، دیروز از این سمت استعفا داد؛ زیرا در معاونت اول محمد اشرف غنی، شامل تکت انتخاباتی ریاست جمهوری شده است.
نجیب دانش سخنگوی وزارت امور داخله، در صحبت با آژانس خبری پژواک تأیید کرد که امرالله صالح سرپرست وزارت امور داخله، از سمت خود استعفا داده است.
در همین حال، یک منبع دیگر که نخواست از وی نام برده شود گفت که امرالله صالح، به هدف شرکت در انتخابات ریاست جمهوری استعفا داده است و در تکت انتخاباتی محمد اشرف غنی رئیس جمهور، به حیث معاون اول انتخاب شده است.
قابل ذکر است که امرالله صالح، حدود یک ماه قبل به عنوان سرپرست وزارت امور داخله تعیین شده بود.
گفتنی است که تا حال به شمول محمد حنیف اتمر، گلبدین حکمتیار و عبدالطیف پدرام، ده تن به عنوان نامزد ریاست جمهوری ثبت نام کرده اند و قرار است امروز محمد اشرف غنی رئیس جمهور و داکتر عبدالله رئیس اجرائیه کشور نیز به عنوان نامزدان ریاست جمهوری ثبت نام کنند.
به اساس تقویم جدید کمیسیون مستقل انتخابات قرار است انتخابات ریاست جمهوری، در ۲۹ سرطان سال ۱۳۹۸ برگزار شود.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Shigal English Academy

COMING SOON...

## دریځ

### سوله د امریکا او پاکستان معاملې ته پاتې شوه؟

وسله‌والو طالبانو هغه خبرونه رد کړل چې ګواکې په پاکستان کې یې له امریکایي استازي زلمي خلیلزاد سره کتلي دي. وسله‌وال طالبان د پاکستان تر فشار لاندې وو چې د سعودي او اماراتو د غونډو له لغوه کېدو وروسته په اسلام اباد کې له زلمي خلیلزاد سره وګوري. ویل کېږي چې د همدغه فشار په لړ کې د طالبانو یو مشر او د اماراتو د غونډې ګډونوال حافظ محب‌الله څو ساعته ونیول شو، خو بیا هم طالبان په پاکستان کې خبرو ته حاضر نه شول. له دې سره خلیلزاد له پاکستان څخه خوښي څرګنده کړې ده او اسلام اباد ته یې خپل سفر ګټور بللی دی.

اوس پوښتنه دا ده چې که طالبان په اسلام آباد کې له امریکایي استازو سره خبرو ته حاضر نه شول، نو خلیلزاد ولې له دغه سفره خوشاله دی؟

په سعودي، قطر او بیا پاکستان کې د سولې د غونډو له لغوه کېدو وروسته اوس داسې ښکاري چې د سولې خبرې له جدي خنډ سره مخ شوې دي. وسله‌وال طالبان د خبرو لپاره پر دوو ټکو ټینګار کوي، لومړی دا چې امریکایي استازي باید پر ټاکلې اجنډا (د بهرنیو ځواکونو پر وتلو) خبرې وکړي او دویم دا چې خبرې باید په قطر کې وي. امریکایي استازي بیا غواړي چې غونډې له قطره د باندې په سعودي، اماراتو او پاکستان کې وي او په دې خبرو کې طالبان حاضر شي چې له افغان حکومت سره خبرې وکړي. امریکایي استازي دغه راز غواړي چې د ځواکونو د وتلو پر ځای پر اوربند، د بندیانو پر تبادلې، تور لیست او ځینو نورو مسایلو خبرې وکړي. په دې ډول د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ شوې دي.

د خبرو له دغه ځنډ سره سره زلمي خلیلزاد د پاکستان له روله خوشاله دی او وایي چې پاکستان مرسته کوي. نوموړي د پاکستان له سفر وروسته په یوه ټویټري پیغام کې ویلي چې په تېرو دوو ورځو کې یې له ډېرو پاکستاني چارواکو سره کتلي دي او د افغان سولې په اړه یې خبرې ورسره کړې دي. د ده په خبره، د عمران خان په ګډون د پاکستان مهمو چارواکو ډاډ ورکړی چې د افغانستان د سولې په پروسه کې به همکاري کوي. خلیلزاد وایي، پاکستان ته یې سفر ګټور دی او هیله لري چې افغانان یو ګام نور هم سولې ته نږدې کړي. د خلیلزاد له دغو څرګندونو داسې ښکاري چې اوس د سولې بحث د طالبانو او امریکا ترمنځ د مخامخ خبرو پر ځای، د پاکستان او امریکا معاملې ته پاتې شوی دی. اوس د سولې په خبرو کې نه افغان حکومت شته، نه طالبان او نه هم کوم بل افغان لوری، بلکې په دې چاره کې پاکستان او امریکا سره خبرې کوي. اوس دې چارې ته د امریکا او پاکستان د معاملې نوم ورکول کېدای شي. پاکستان به امریکا ته ډاډ ورکوي چې طالبان به خبرو ته حاضر کړي، ښایي ځینې طالب مشران په زور او زر حاضر کړي، ښایي د امریکا غوښتنو منلو ته یې هم تیار کړي او ښایي د سولې په نامه کومه هوکړه هم وشي، خو دا به په افغانستان کې د امن او ثبات سبب نه شي. اوس طالبان یوازې پر پاکستان تیکه نه کوي، د سیمې له نورو هېوادونو سره هم اړیکې لري او په افغانستان کې هم پراخه ځمکه لري، نو د پاکستان فشارونه او معاملې به د امنیت او ثبات سبب نه شي. په ټوله کې به د افغانستان په تړاو د امریکا او پاکستان معامله ناوړه پایلې ولري.

# په ګډه سوله ساتو؛

## د چین او افغانستان ترمنځ د رسمي اړیکو د ټینګېدو د ۶۴مې کلیزې په مناسبت



لیکنه: په افغانستان کې د چین لوی سفیر
**لیوجین سونګ**

د سږ کال د جنوری ۲۰مه د چین او افغانستان ترمنځ د رسمي اړیکو د ټینګېدو له ۶۴مې کلیزې سره برابره ده. له ٦۴ کلونو راهیسې، هرڅومره که نړیوالو حالاتو او کورنیو چارو بدلونونه کړي دي، خو د چین او افغانستان ترمنځ اړیکې تل نږدې پاتې شوې دي او له ګاونډیو هېوادونو سره د چین د اړیکو د یوې نمونې په توګه بلل کېږي، چې ور څخه د نویو نړیوالو اړیکو او د ګډ برخلیک د ټولنې په اړه مفکورې څرګندېږي.

د چینایانو په اند، دوستي څو ډولونه لري. له شک پرته د چین او افغانستان ترمنځ لرغونې، همغږې او له ستونزو وتلې دوستي شته.

د لرغونې دوستی مانا دا ده چې په ۱۹۵۵ ز کال کې د رسمي اړیکو د ټینګېدو په رڼا کې د دواړو هېوادونو د خلکو ترمنځ د دوستی نوې پاڼه پرانیستل شوه، خو له دې مخکې یې دوه اړخیزه دوستي لرغونی تاریخ لري. دواړه هېوادونه د وربښمو د لرغونې لارې جوړوونکي او ابادوونکي دي. دوه زره کاله مخکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرو او سفیرانو تګ راتګ رامنځته شوی دی. د بودیزم هنرونه، انار، لاجورد او کاشي چې له افغانستان څخه چین ته وړل شوي، د چین پر تاریخ او کلتور یې ژورې اغېزې کړې دي. د ستر ټانګ په زمانه کې د لوېدیځې سیمې د سفر په یونلیک کې چې د هیون تسانګ له خوا لیکل شوی، په پخوا وختونو کې یې د افغانستان دودونه او بڼې څرګندې کړې دي.

د همغږې دوستی مانا دا ده چې که څه هم دواړه هېوادونه د بېلابېلو حالاتو لرونکي دي، خو دغه دواړه هېوادونه له ۶۴ کلونو راپه دېخوا تل یو د بل احترام، درناوی او یو له بل سره برابر سلوک کوي. د افغان دوستانو د خبرو په تکرارولو سره وایم، چین په نړۍ کې یو لوی هېواد دی، خو نورو لویو هېوادونو ته ورته نه دی، چین هېڅکله پر افغانستان باندې تېری نه دی کړی او هېڅکله یې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه ده کړې. له چین سره د افغانانو دوستي او باور له ازموینو څخه بریالي وتلي دي.

له ستونزو څخه وتلې دوستي دا مانا لري چې په دې وروستیو کې دواړو هېوادونو په ګډه له استعمار، امپریالېزم او بادار غوښتنې سره په مېړانه مقابله کړې ده او د ملتونو په جاربدو سره یې د هېوادونو خپلواکی تر لاسه کړې او ساتلې دي. دواړو هېوادونو په دغه بهیر کې تل له یو بل څخه ملاتړ او خواخوږي کړې. له ۱۹مې تر ۲۰مې زېږدیزې پېړۍ پورې افغانستان درې ځله برېټانوي تېري کوونکو ته ماتې ورکړې، نو په دې مناسبت په ۱۹٦۴ ز کال کې د رییس ماځه دونګ د افغانستان له پاچا محمدظاهر شاه سره د کتنې په ترڅ کې لومړی خبره دا وه: «افغانستان یو مبارز او باتور هېواد دی او په تاریخ کې یې هېچا ته خپل سر نه دی ټیټ کړی».

په هغه وخت کې چې افغانستان له ستونزو او تېریو سره مخ شوی دی، چین تل د نړیوال عدالت او د افغانانو ترڅنګ ولاړ دی، تل له افغانستان سره نه سترې کېدونکې او د زړه له کومې مرستې کوي. د چین د احسان د تلافي کولو په اړه، افغانستان په هغو اسیایي هېوادونو کې دی، چې تر ټولو مخکې یې نوی چین په رسمیت پېژندلی او په ملګرو ملتونو کې یې د نوي چین د حقه مقام د بیا اعاده کېدو لپاره قیمتي مثبته رایه ورکړې ده. د افغانستان د بېلابېلو دورو حکومتونو تل د یو او واحد چین پېژندنې پر اصل ټینګار کړی دی او کوي یې او د شینجیانګ او شي ځانګ د حاکمیت او امنیت د ساتلو په برخه کې د چین په کوښښونو پوهېږي او ورڅخه ملاتړ کوي.

سږ کال د افغانستان د خپلواکۍ له ۱۰۰مې کلیزې سره برابر دی او هم د چین ولسي جمهوریت د جوړېدو ۷۰یمه کلیزه ده. له یادو مهمو ورځو څخه د خپلواکۍ او سولې ارزښتونه څرګندېږي او دا د چین او افغانستان ګډه ډیپلوماټیکه موخه هم ده.

د ۱۹۵۵ ز کال په مې کې په افغانستان کې د چین لومړی لوی سفیر جنرال دینګ ګوه یو د افغانستان پاچا محمدظاهر شاه ته د باورلیک د وړاندې کولو په وخت کې داسې ویلي وو: «چین او افغانستان له سولې سره علاقه لرونکي هېوادونه دي. د دواړو هېوادونو ترمنځ د رسمي اړیکو ټینګښت او پرمختګ به د اسیا او نړۍ د سولې د ساتلو لپاره ګټور وي.» لوی سفیر دینګ د خپل ماموریت د پیل په وخت کې په خپل کاري راپور کې د کابل د سولې، ثبات او پرمختیایي حالاتو ستاینه کړې وه او لیکلي یې دي: «په دغه ځای کې هغه شان بنګلې زیاتې دي چې دننه باغ یا چمن لري».

ښاغلي ما شینګ هان چې په همغه وخت کې د لوی سفیر دینګ اتشه و، یادونه کړې چې د تېرې پېړۍ په پنځمه لسیزه کې د کابل ښار ښه منظمه وه او سړکونه هوار او پاخه وو. په دوکانونو کې رنګارنګ تولیدات لیدل کېدل، هر کال افغان حکومت د دوستانه هېوادونو د سندرغاړو او نڅاکوونکو ډلو ته بلنې ورکولې چې په افغانستان کې هنري ننداري جوړې کړي. د خپلواکۍ په ورځ کې یې رسم ګذشت کاوه او په شپه یې هنري ننداري کېدلې. په کابل کې ښه شرنګ او شرونګ و او په ګوټ ګوټ کې رنګین څراغونه او د ګلونو امپلونه تر سترګو کېدل. هغه مهال ژوند له ډېر شوق او ذوق څخه ډک و. په ۲۰۰۲ ز کال کې ښاغلي مایو یو ځل بیا افغانستان ته سفر کړی او جنګي پایلې یې لیدلې چې نیم ښار کنډواله شوی و او په ګوټ ګوټ کې ویجاړې شوې کنډوالې وې. د دارلمان ماڼۍ یوازې د غره په لمن کې ولاړه وه او د ماڼۍ پر دېوالونو باندې د ټوپک او ګولیو نښې او داغونه پاتې وو.

افغانستان تر اوسه پورې د چین په ګاونډیو هېوادونو کې یوازینی هېواد دی چې جګړه پکې روانه ده. تېر کال په افغانستان کې ۴۲٦۰ عامو وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې وه. په پلازمېنه کابل کې څو څو ځلې ستر ترهګریز بریدونه وشول او کله کله د چاودنو او امبولانسونو غږونه اورېدل کېږي. کله چې د چین سفارت د افغانستان د کډوالو له کمپونو او د یتیمانو له وړکتونونو سره مرسته وکړه، د هغو په سترګو کې د خواخوږۍ او همدردۍ اړتیا احساس کړه.

سوله؛ هوا او د لمر وړانګو ته ورته ده چې خلک خود بخود ورڅخه ګټه اخلي او له هغه پرته ژوند ناممکن دی. که سوله نه وي، نو ابادي او پرمختګ نشته او حتی د عامو وګړو حیثیت او بشري حقوق هم نشته. چین له سل کلن جنګي تاریخ څخه وتلی، د لسګونو میلیونو کسانو په جارولو سره یې سوله تر لاسه کړې، د سولې په چاپېریال کې یې اصلاحات او ورخلاصون پیاوړی کړی او شتمنه ټولنه یې اباده کړې، نو چینایان په جګړو کې د افغانانو په مخ کې درد او د سولې د موندلو نیت ښه احساسولی شي.

د رییس شي جین پینګ د وینا له مخې، د چین خلک تل باانصافه او خواخوږي دي، تل د بېلابېلو هېوادونو د خلکو له برخلیک سره خپل برخلیک تړي، تل د اړوندو هېوادونو خلکو ته پاملرنه کوي او ورسره مرسته کوي، کوم چې په جګړو، تزلزلو حالاتو، لوږو او بېوزلۍ کې ژوند کوي. چین تل غواړي چې تر خپلې وسې پورې د بشریت د سولې او پرمختګ لپاره خدمتونه وکړي.

د نوي کال په پیل کې، د سپوږمۍ د څېړنې په اړه د چین څېړنیز ماشین د لومړي ځل لپاره د سپوږمۍ د لرې پرتې برخې انځورونه خپاره کړل او له دې څخه د نوښت او احداث په برخو کې د چین توان او له لرې فضا څخه د سوله ییزې استفادې په اړه د دغه هېواد هوډ څرګندېږي. چین به د سوله ییز پرمختګ پر لاره، د متقابلو ګټو پر بنسټ، د ورخلاصون پر ستراتېژۍ، د نوي ډول نړیوالو اړیکو او د بشریت د ګډ برخلیک د ټولنې پر جوړولو، د نړۍ د دایمي سولې، عامه امنیت، ګډې سمسورتیا، ورخلاصون او جامعیت او پاکوالي او خوندیتوب پر ساتلو ټینګار وکړي.

د نوي کال په پیل کې، د چین د بهرنیو چارو وزیر له عادت سره سم له افریقا څخه لیدنه کړې، د پرمختیایي هېوادونو له ورونو سره یې ستراتېژیکې اړیکې پیاوړې کړې، د خپل هېواد د پرمختګ فرصتونه او تجربې یې ورسره شریکې کړې او د څو اړخیزې غوښتنې او د یو کمربند او یوې لارې ابادۍ یې پیاوړې کړې دي. چین له یو بېوزله او بې زوره هېواد څخه په نړۍ کې دویمې لویې اقتصادي ډلې ته ګرځېدلی دی. امکانات او بنسټ یې پراختیا غوښتنه ده، نه استعمار. هر څومره چې چین پرمختګ وکړي، هېڅکله به د باداری غوښتنه، د پراختیا غوښتنه او زبرځواکي ونه غواړي.

د نوي کال په پیل کې، د کوریا ډیموکراتیک ولسي جمهوریت مشر له چین څخه لیدنه وکړه. په ملي امنیتي چارو کې د افغانستان د ولسمشر سلاکار هم د چین له مشرانو سره وختي او ګټورې خبرې اترې وکړې. موږ د تودو مسئلو د حل لپاره د چین په ځانګړتیالرونکې لاره کې ګامونه پورته کوو او پر سولې، عدالت او رغنده رول ټینګار کوو. موږ د کوریا ټاپو وزمې او افغانستان په ګډون د ځینو تودو او پېچلو مسئلو د حل لپاره د چین طرحې وړاندې کوو او د ستر هېواد په توګه رول لوبوو.

چین هیله لري چې افغانان په نوي کال کې د سولې په غېږ ژوند وکړي او غواړي چې د افغانستان بېلابېلې سیاسي خواوې د هېواد او ملت د ګټو له مخې یو بل ته نږدې او قدمونه واخلي، ژر تر ژره اوربند وکړي، د سولې خبرې اترې وکړي او په جامعیت سره د مسئلو د سیاسي حل لارې چارې پیدا کړي. چین تل د سوله ییزو خبرو اترو د پیاوړتیا لپاره کوښښ کوي او د هېواد د امنیت او ثبات د ساتلو او د افغانانو تر لارښوونې او مالکیت لاندې د روغې جوړې د بهیر د پیاوړتیا په برخو کې له افغان حکومت څخه ملاتړ کوي. چین تل پر دې نظر دی چې د افغانستان مسئلې بېلابېلې خواوې دي د افغانستان د حاکمیت، د افغانانو د نیت او د افغان حکومت د رول درناوی او احترام وکړي.

چین او افغانستان د ترهګرۍ زیانمن شوي هېوادونه دي او هم له ترهګرۍ سره د نړیوالو مبارزو په لومړۍ کرښه کې ولاړ دي. د ختیځ ترکستان اسلامي غورځنګ په شمول، ترهګریزې ډلې د دواړو هېوادونو لپاره ګډ ګواښ دی. چین له هر ډول ترهګرۍ سره مخالفت کوي او د دې غوښتنه کوي چې د ترهګرۍ پرضد مبارزه دې په هره ساحه کې تر سره شي او په دې برخه کې دې نړیوالې همکارۍ پیاوړې شي. د چین د قانون اجرا کوونکې څانګه غواړي له افغانستان سره د ترهګرۍ پرضد د مبارزې، د سرحدي امنیت او د ارګانونو او شخصیتونو د امنیت د ساتلو په برخو کې لا ښې همکارۍ وکړي.

چین د دې غوښتنه کوي چې افغانستان دې د لویو هېوادونو د همکارۍ ځای وګرځي، نه د سیالۍ ځای. چین غواړي چې افغانستان له ګاونډیو هېوادونو سره ښې اړیکې وساتي او متقابل تګ راتګ او تبادلې پیاوړې کړي. دغه راز دغه هېواد د چین، افغانستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو د ډیالوګ لارښوونه پیاوړې کوي. د دغه ډیالوګ دویم پړاو د تېر کال په ډسمبر کې په بریالۍ توګه تر سره شو او دریو خواوو د ترهګرۍ پرضد د مبارزې د همکاریو سند لاسلیک کړ چې د متقابل باور او همکارۍ د ژورتیا لپاره ښه زمینه برابره شوې ده. دغه راز، د افغانستان، چین، پاکستان او تاجکستان ترمنځ د ترهګرۍ پرضد د مبارزې په اړه د پوځونو د همکارۍ او همغږۍ نظام او د چین، هند او افغانستان ترمنځ همکارۍ د افغانستان د سولې او پرمختګ د پیاوړتیا په جریان کې رول لوبوي.

د چین او افغانستان ترمنځ د رسمي اړیکو د ټینګېدو په ٦۴ کلونو کې دواړو هېوادونو د سولې له امله زړونه تړلي او د سولې لپاره یې ګډ کوښښونه کړي دي. چین او افغانستان به په نوي کال کې د ستراتېژیکو همکاریزو اړیکو د ژورتیا او د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ لپاره هڅې وکړي چې دا به د افغانستان او حتی د سیمې او نړۍ د سولې لپاره ثابت قوت وګرځي او د سولې د ساتلو په برخه کې به د چین او افغانستان د خلکو لپاره ګټور وي.

# معترض نوماندان: د کابل تېرې ټاکنې له درغليو ډکې وې، پايلې يې بايد باطلې اعلان شي



د کابل ولايت د ولسي جرگې ځينې معترض نوماندان وايي، په کابل کې دې د تېرو ټاکنو لومړنۍ پايلې باطلې اعلان شي او دغه ټاکنې دې له سره وشي.
پرون په کابل ښار کې ځينو معترضو نوماندانو د ټاکنو کمېسيون له لوري د پايلو پر اعلان نيوکې وکړې او هغه يې د نه منلو وړ وبللې. د معترضو نوماندانو په خبره، په دغو ټاکنو کې پراخه درغلي شوي ده او د دې اړتيا ده چې د خلکو حقوقو ته درناوی وشي. دوی پرون د شکايتونو کمېسيون مخې ته لاريون کړی و او له دغه کمېسيون يې وغوښتل چې له خپلې مخکينۍ پرېکړې دفاع وکړي او په کابل کې د ولسي جرگې تېرې ټاکنې او پايلې يې باطلې اعلان کړي.
د معترضو نوماندانو له ډلې ځينې يې پر دې باور دي چې د ولسي جرگې په تېرو ټاکنو کې شتمن خلک بريالي شوي او رايې په پيسو اخيستل شوې دي. د دوی په خبره، د ټاکنو خپلواک کمېسيون په دغو درغليو او فساد کې ښکېل و او د خلکو حقوق يې تر پښو لاندې کړي دي.
معترض نوماندان ادعا کوي چې دوی د رايو د پلور په اړه کره سندونه لري او داسې ثبوتونه ورسره شته چې ښيي، د ټاکنو خپلواک کمېشنران په فساد کې ښکېل دي.
دوی همدا راز خبرداری ورکړی چې که د کابل ولايت د ولسي جرگې لومړنۍ پايلې باطلې اعلان نه شي، نو له ولسمشريزو ټاکنو سره به پرېکون وکړي. بل پلو د ټاکنو خپلواک کمېسيون بيا وايي چې اعلان شوې پايلې نهايي نه دي او معترض نوماندان کولی شي د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون کې خپل شکايتونه ثبت کړي. د دغه کمېسيون په خبره، د شکايتونو تر څېړلو وروسته به نهايي پايلې اعلان کړي.
يو تن معترض نوماند عرفان‌الله عرفان وايي، د ټاکنو خپلواک کمېسيون پايلې له پراخو درغليو او ستونزو ډکې دي او بايد د خلکو حقوقو ته د درناوي په موخه د کابل ټاکنې بيا ځلې ترسره شي. نوموړي ويلي: «د ټاکنو خپلواک کمېسيون کمېشنران په فساد کې ښکېل دي. د کابل حوزې د ولسي جرگې په ټاکنو کې پراخ فساد شوی دی، نو د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون بايد پر خپله پرېکړه ودرېږي او د کابل ولايت لومړنۍ پايلې باطلې اعلان کړي.»
معترض نوماندانو همدا راز ادعا کړې چې له کابله بريالي شوي نوماندان د پيسو په مقابل کې کامياب شوي او داسې اسناد هم په واک کې لري، چې د ټاکنو کمېسيون کمېشنران هم په پراخ مالي فساد کې ښکېل دي.
بل پلو د ولسي جرگې مشر او ډېرو نورو غړو هم د ولسي جرگې په پرونۍ غونډه کې د خبرو پر مهال د کابل او ولايتونو د ولسي جرگې ټاکنې له درغليو او فساد ډکې وبللې. د ولسي جرگې رييس عبدالروف ابراهيمي وويل چې ټاکنيز کمېسيونونه بايد د خلکو شکايتونو ته غوږ ونيسي، ځکه تېرې ټاکنې له درغليو ډکې وې او ولس ته بايد قناعت ورکړل شي.
ابراهيمي ويلي: «تېرې ټاکنې له درغليو او فساد ډکې وې، د ټاکنو کمېسيون د ټاکنو په مديريت کې ناکام و، د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون بايد اوس د خلکو غږ واوري، شکايتونه په سمه توگه وڅېړي او حق حقدار ته ورسوي».
د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون بيا وايي چې د ټاکنو د پايلو تر اعلان وروسته يې د کابل حوزې د ټاکنو په اړه سلگونه شکايتونه تر لاسه کړي دي. د دغه کمېسيون وياند علي رضا روحاني وايي، دوی هڅه کوي چې د خلکو او معترضو نوماندانو سلگونه شکايتونه وڅېړي. د ده په خبره، دوی د خلکو حقوقو ته ژمن دي او هڅه کوي چې شکايتونه تر دقيقې څېړنې لاندې ونيسي او وروسته به نهايي پرېکړه کوي.

## عامې روغتيا وزارت: هغه موسسې چې معياري خدمتونه نه وړاندې کوي، تړونونه به ورسره لغوه کړو

عامې روغتيا وزارت ځينو موسسو ته خبرداری ورکړی چې که چېرې خلکو ته په خپل وخت معياري روغتيايي خدمتونه ونه رسوي، قراردادونه به ورسره فسخه کړي.
د عامې روغتيا وزير فيروز الدين فيروز ويلي، په تړونونو کې شفافيت ته ژمن دی او د دغه وزارت د مشرتابه پلاوی به تړونونه په جدي توگه څاري.
فيروز تېره ورځ د ۲۳ ولايتونو د روغتيايي خدمتونو د تړونونو د لاسليک پرمهال ځينو موسسو ته خبرداری هم ورکړی چې که چېرې خلکو ته په خپل وخت معياري روغتيايي خدمتونه ونه رسوي، تړونونه به ورسره فسخه کړي.
نوموړي ويلي: «په هغه صورت کې چې موسسې ونه توانېږي چې معيارونه پوره کړي، زموږ لومړی اقدام دا دی چې قرارداد به يې فسخه کېږي، فسخه شوې موسسه بلک لېست کېږي او مالي مجازات کېږي. تاسو ټولو ته معلومه ده چې دا ټول د مرسته کوونکو ادارو لکه نړيوال بانک او اروپايي ټولنې مرستې دي، په دغو ۲۳ ولايتونو کې چې موږ يې تړون کوو، دا د دريو کلونو لپاره دي او نږدې ۲۳۷ ميليونه امريکايي ډالره دي.»
د ۲۳۷ ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت د معياري روغتيايي خدمتونو د رسولو دغه تړونونه په اروزگان، بادغيس، پکتيا، پکتيکا، دايکنډي، فارياب، فراه، کونړ، لغمان، لوگر، ميدان وردگ، باميان، بغلان، بلخ، تخار، جوزجان، زابل، سمنگان، غور، کندوز، کندهار، نورستان او کابل کې د نړيوال بانک په مالي ملاتړ پلي کېږي.
نوموړي دغه راز په تړونونو کې د بشپړ شفافيت ډاډ هم ورکړی دی.
دا په داسې حال کې ده چې ډېری خلک په مرکز او ولايتونو کې د روغتيايي خدمتونو له کموالي او بې کيفيتۍ شکايت کوي.
روغتيايي چارواکي بيا وايي چې د روغتيايي خدمتونو د پراختيا له امله اوس په هېواد کې په هرو ۱۰۰۰ زېږونونو کې د مړينې شمېره ۸۶ ده، په داسې حال کې چې پخوا تر دې په هرو ۱۰۰۰ زېږونونو کې دغه شمېره ۲۵۷ وه. په ورته وخت کې د افغان کورنيو د پيوستون موسسې مشر محمدهمايون ساپي په دې ناسته کې ډاډ ورکړی چې د شوي تړون له مخې به خلکو ته په خپل وخت معياري روغتيايي خدمتونه ورسوي.
نوموړي زياته کړې: «د انجوگانو په استازيتوب زه داسې ډاډ درکوم چې د قرارداد په اساس به خپل کارونه مخ ته وړو او روغتيا وزارت او خلکو ته به د شکايت ځای نه پرېږدو».
په کور دننه د معياري روغتيايي خدماتو د وړاندې کولو خبره په داسې حال کې کېږي چې دا مهال د هېواد ډېری ناروغان د درملنې لپاره گاونډيو هېوادونو ته ځي چې په مجموعي ډول پرې تقريباً ۳۰۰ ميليونه ډالره لگېږي.

## د سولې عالي شورا: پاکستان به دا ځل د سولې په پروسه کې رښتينې همکاري وکړي

په داسې حال کې چې د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانگړی استازی زلمی خليلزاد له پاکستاني چارواکو سره پر خبرو بوخت دی، د سولې عالي شورا وايي چې دغه خبرې به د هېواد د سولې په برخه کې اغېزمنې وي.
د دې شورا مرستيال عزيزالله دين محمد ويلي، دوی تمه لري چې د خليلزاد د هڅو په پايله کې به اسلام اباد په افغان سوله کې رښتينې همکاري وکړي.
نوموړي ازادي راډيو ته ويلي چې د افغان سولې د بريالیتوب يوازينۍ لاره د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې دي او هيله يې ښودلې چې پاکستان به د خليلزاد د هڅو په پايلو کې دغه زمينه برابره کړي.
نوموړي ويلي: «ښاغلی خليلزاد چې دا مهال هلته دی او له هغو اړيکو په استفادې چې د دواړو هېوادونو په منځ کې دي، د پاکستان دولت د افغان سولې له بهير سره همکاريو ته چمتو کړي چې دا گټوره ده او پايلې به يې هم وليدل شي. زموږ غوښتنه دا ده چې په افغانستان کې تل پاتې سوله راشي، داسې سوله چې په هغه کې د افغانستان خپلواکي لومړيتوب وي.»
دا په داسې حال کې ده چې خليلزاد له افغان چارواکو سره تر ليدنې وروسته د پنجشنبې په ورځ له پاکستاني چارواکو سره د ليدنې په موخه اسلام اباد ته ولاړ.
د پاکستاني رسنيو د راپورونو پر بنسټ، خليلزاد د پاکستان له لومړي وزير عمران خان او د بهرنيو چارو له وزير شاه محمود قريشي سره کتلي او دغو چارواکو له نوموړي سره ژمنه کړې چې د افغانستان د سولې له پروسې سره به همکاري کوي.
له دې وړاندې پاکستاني رسنيو په پاکستان کې د زلمي خليلزاد او طالبانو د ليدنې په اړه راپورونه ورکړي وو، خو طالب وياند ذبيح‌الله مجاهد په خپل ټوېټر کې دا ډول راپورونه شايعه بللي دي.
په ورته وخت کې پاکستاني خصوصي ټلوېزيون جيو راپور ورکړی چې خليلزاد او قريشي هوکړه کړې، چې د خبرو بل پړاو چې په پاکستان کې کېږي، د زلمي خليلزاد او طالبانو ترمنځ به وي.
د سولې عالي شورا دغه خوشبينې په داسې حال کې ده چې افغان ولسمشر محمد اشرف غني د پنجشنبې په ورځ د پاکستان له لومړي وزير عمران خان سره د افغانانو په مالکيت د سولې په اړه ټلېفوني خبرې وکړې.
په دې وروستيو کې د امريکا له لوري د افغان سولې لپاره هڅو هيلې زياتې کړې، خو د سولې خبرو برياليتوب د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې بلل کېږي، هغه څه چې تر اوسه طالبان ورته نه دي چمتو شوي.

## ملگري ملتونه: امريکا او شمالي کوريا دې بېرته جدي خبرې پيل کړي



د ملگرو ملتونو عمومي منشي انتونيو گوترېش له امريکا او شمالي کوريا غوښتي چې د کوريا ټاپو د غير اټومي کولو په خاطر بايد د امريکا او شمالي کوريا ترمنځ جدي خبرې بېرته پيل شي.
نوموړي ټينگار کړی چې دا ځل د کوريا ټاپووزمې له اټومي وسلو د پاکولو په موخه بايد يوه روښانه تگلاره وټاکل شي.
نوموړي په نيويارک کې په دې تړاو خبري کنفرانس ته ويلي: «موږ باور لرو چې اوس وخت را رسېدلی چې د امريکا او کوريا ترمنځ جدي خبرې بېرته پيل شي او په دې اړه يوه تگلاره وټاکل شي».
دا په داسې حال کې ده چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د جمعې په ورځ د شمالي کوريا له لوړپوړي ډيپلومات کيم يانگ چاول سره په سپينه ماڼۍ کې وکتل.
تر دې مخکې ښاغلي چاول د امريکا د بهرنيو چارو له وزير مايک پامپيو سره هم کتلي، خو د ډونالډ ټرمپ او شمالي کوريا د مشر ترمنځ د دويمې سرمشريزې په اړه خبرې وکړي. رويټرز خبري اژانس راپور ورکړی چې د چاول دا سفر ښيي چې شمالي کوريا نوره د غير اټومي کېدو پر لور نورو اقداماتو ته چمتو ده.
له مايک پامپيو سره د چاول تر ليدنې وروسته سپينې ماڼۍ ويلي چې ټرمپ له چاول سره په خپل دفتر کې وليدل او دې دواړو هېوادونو د خپلمنځي اړيکو او له اټومي وسلو په بشپړه توگه د کوريا ټاپووزمې د پاکولو په اړه يې خبرې وکړې.
د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د جمعې په ورځ په يوه اعلاميه کې ويلي چې د پامپيو او چاول ترمنځ ښې خبرې وشوې، خو په دې اړه يې نور جزيات نه دي ورکړي.
د رويټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د شمالي کوريا د دغه لوړپوړي ډيپلومات له سفر وروسته کېدای شي د ټرمپ او کېم جونگ اون ترمنځ د بلې سرمشريزې پلان اعلان شي.
ټرمپ او کېم دواړو د دويم ځل لپاره ليدو ته لېوالتيا ښودلې، خو ځينې امريکايي څېړونکي وايي چې دا به تر وخت مخکې وي چې د هر ډول پرمختگ په اړه خبرې وشي.
په لومړۍ سرمشريزه کې کېم جونگ اون ژمنه کړې وه چې د کوريا ټاپووزمې د غير اټومي کولو لپاره به اقدامات وکړي، خو واشنگټن وايي، ده تر اوسه په دې اړه جدي گامونه نه دي پورته کړي. د يادونې ده چې ډونالډ ټرمپ او د شمالي کوريا مشر کېم جونگ اون د لومړي ځل لپاره د تېر زېږديز کال په جون مياشت کې په سنگاپور کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو په ښه کېدو او دغه راز له اټومي وسلو څخه د کوريا ټاپو د پاکولو په اړه خبرې وکړې.

## د کتـــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ ليکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

**درېيم څپرکی**
**پر ځان باور وکړئ**
او وېره ووژنئ




هلته به چې ټول خلک په سل نفري ليکو کې د يو بل خوا ته لوڅ ودرېدل، نو چنداني توپير به پکې نه و. البته ځيني پکې ځورب وو، ځيني ډنگر، ځيني لوړ وو او ځيني ټيټ ... خو ټول گنگس او غربت ځپلي ښکارېدل. دې ځای ته له راتگه مخکې، له دوی ځيني خلک ځوان او بريالي مديران وو، ځيني بزگر وو، ځيني پلورونکي او ځيني کاريگر وو. څو ورځې مخکې دوی ډېر شيان او ډېر څوک وو، خو په دې نظامي مرکز کې ټول سره ورته وو.
زه هلته په يوه مهم ټکي پوه شوم، هلته مې وليدل چې په موږ انسانانو کې د اشتراک لاملونه د اختلاف تر لاملونو ډېر دي. ومې ليدل چې نور خلک څومره ما ته ورته دي. هغوی هم ښه خواړه خوښوي، په کورنۍ او ملگرو پسې خپه کېږي، ژوند کې پرمختگ غواړي، ستونزې لري، ارام او استراحت خوښوي، نو که بل څوک هم اصلاً زما په څېر وي، بيا خو پکې د وېرې هېڅ ځای نشته.
(اوس نو د ځان په شان له انسانه وېره هسې بې ځايه خبره ده.)
دلته د خلکو د سم درک کولو لپاره دوه لارې ښودل شوې دي:
الف. د خلکو په اړه متعادل نظر ولرئ. له خلکو سره په اړيکو کې دوه ټکو ته پام کوئ: لومړی دا چې هغه مهم کس دی او بېشکه مهم دی، ځکه چې هر انسان مهم دی. خو دې ته هم پام کوئ چې تاسې هم مهم ياست، نو له بل کس سره چې گورئ، دا فکر درسره لرئ چې: (موږ دواړه مهم خلک يو، سره ناست يو او په گډو گټو غږېږو.)
څو مياشتې مخکې راته د يوه شرکت د بازارموندنې مدير زنگ وواهه او راته ويل يې: تا چې څو ورځې مخکې کوم ځوان را پېژندلای و، هغه مو وگوماره، بيا يې پوښتنه وکړه، ته پوهېږې چې څه شي يې جذب کړم؟
ومې ويل: څه شي؟
ويل يې: (له ځان سره د هغه چلند راته په زړه پورې و، زياتره کار غوښتونکي چې دلته راځي نيم وېرېدلي وي، داسې ځوابونه راکوي، کوم ځوابونه چې فکر کوي زما خوښېږي، نو داسې کار غوښتونکي خلک زياتره سوالگرو ته ورته وي، هر وړانديز چې ورته وکړې، هغه مني او خپله کوم خاص نظر نه لري.
خو دې سړي ځان بل ډول را وښود، ماته يې درناوی لاره، خو مهمه دا وه چې ځانته يې هم درناوی درلود. بله دا چې ما ترې څومره پوښتنې کولې، ده هم له ما همدومره پوښتنې وکړې، په دې توگه پوه شوم چې بې لوري انسان نه دی. داسې انسان دی چې فکر کوي په ښه بڼه بايد کار وکړي.
دا چلند دا ډول دوه اړخيزه دی او له تاسې سره مرسته کوي چې په اړيکو کې توازن وساتئ، هېڅوک مه پرېږدئ چې پر تاسې ځان ډېر لوړ حساب کړي.
ښايي نور خلک د قدرت او موقف له پلوه ډېر لوی وي، خو دا ياد ساتئ چې هغوی ستاسې په څېر انسانان دي، ستونزې لري، غوښتنې لري او حتمي گټې او زيانونه لري.
ب. عاقلانه ليدلوری ولرئ. که تاسې ورسره د مقابلې وړتيا و نه لرئ، نو نړۍ کې داسې خلک ډېر دي چې تاسې به چيچي، گواښ به درته کوي، زيان به در رسوي او فشار به دربانديې راوړي. که د مقابلې وړتيا و نه لرئ، ښايي ستاسو شخصيت ته لوی زيانونه واړوي او په تاسې کې د ماتې احساس را پيدا کړي. کوم انسان چې د ټولو خلکو د چيچلو او ځورولو نيت لري، تاسې ترې دفاع ته اړتيا لرئ.
څو مياشتې مخکې مې د هوټل په پذيرش کې، له داسې کس سره د چلند يوه ننداره وليدله. تقريباً د مازديگر پنځه بجې به وې او هوټل ته د نويو مېلمنو د راتگ له امله گڼه گوڼه جوړه وه. زما مخې ته ولاړ کس خپله نوم په ډېر قوت د هوټل کارکوونکي ته واخيست، هغه ورته وويل: (هو ښاغليه الف، يوه ښه يوکسيزه خونه درته لرو.)
سړي چيغه کړه: (يو کسيزه؟ خو ما خو دوه کسيزه غوښتې وه!)
د هوټل کارکوونکي ورته په ډېره درنه لهجه وويل: (ښه زه به يې يو ځل بيا وگورم صيبه!)
هغه د مېلمنو د خونو د ريزرف کارت را واخيست او ورته وويل: (وبښئ صيب! ستاسې په تلگرام کې يو کسيزه کوټه ښودل شوې ده، زه به خوشاله شوې وی چې دوه کسيزه خونه مې درکړې وی، خو له بده مرغه اوس دوه کسيزه خونه نه لرو.)
مېلمه په غوسه شو، ويې ويل: (دا مهمه نه ده چې په کاغذ کې څه ليکلي، خو زما دوه کسيزه کوټه پکار ده او دستي مې پکار ده.)
بيا يې د گواښ په بڼه وويل: (ته ما نه پېژنې چې زه څوک يم؟)
ورپسې چيغه يې کړه: (له دندې به دې پرې وشړم، وبه يې گورې، ولاکه دې پرېږدم.)
کارکوونکي ورته بيا هم په ډېره نرمه لهجه لنډ وويل چې: (ښاغليه ډېره ښښنه غواړم، موږ ته چې تاسې څنگه ويلي هغسې مو کړي.)
پېرودونکی چې پوه شو چې نور څه نه کېږي، ويې ويل: (زه پوه شوم چې دلته دومره خرابه اداره ده، اوس که راته د دې هوټل تر ټولو ښه خونه راکوئ هم، نه پکې اوسېږم...) دا يې وويل او همداسې په غورېدو ووت.
**دوام لري...**

# نورستان؛
## يوازينی هغه ولايت چې پوهنتون يا د لوړو زده کړو موسسه نه لري



حميدالله حميدي

له دې وړاندې مو د هېواد له ۳۳ ولايتونو څخه ۳۶ پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې در وپېژندل چې ځيني دغه اکاډميک مرکزونه په خورا ښه، ځيني په متوسط او ځيني نور يې بيا په خورا بد حالت کې وو، خو بيا هم تر نشت ښه وو.
په دې ډله کې ځيني داسې ولايتونه هم وو چې له جوړېدو يې د گوتو په شمېر کلونه تېر شوي، خو بيا هم د لوړو زده کړو موسسه يا پوهنتون لري. په ۱۱۷٤ لمريز کال کې د افغانستان پاچا امير عبدالرحمن خان تر نظامي عملياتو وروسته دغه سيمه ونيوله، د افغانستان برخه يې وگرځوله چې د ولايت کېدو يې هم کلونه تېرېږي، خو لا هم دغه ولايت دولتي پوهنتون او يا هم د لوړو زده کړو موسسه نه لري. په ځلونو مو هڅه وکړه چې د دغه ولايت له والي حافظ عبدالقيوم سره پر هغو دلايلو او علتونو خبرې وکړو چې له مخې يې په دغه ولايت کې تر اوسه دولتي پوهنتون او يا هم د لوړو زده کړو موسسه نشته. که څه هم چې خپله يې د مرکې وخت را په نښه کړ، خو له ژمنې سره سره بيا هم حاضر نه شو او زموږ ټيليفوني اړيکه يې بې ځوابه پرېښوده. د دې لپاره چې د نورستان ولايت مو هم همداسې نه وي پرې اېښی، نو د نورستان د دارالمعلمين له مشر سره مو خبرې کړې دي او د دغه دارالمعلمين په اړه يې معلومات راکړي دي.
د نورستان د دارالمعلمين د بنسټ ډېره په ۱۳۸٦ لمريز کال کې کېښودل شوه چې په هغه کال يې زده کوونکي نه درلودل، خو په ۱۳۸۷ لمريز کال کې يې د ۱۵۰ زده کوونکو او ۳ استادانو په درلودو سره فعاليت پيل کړ. په ۱۳۸۸ لمريز کال کې د دغه دارالمعلمين د استادانو شمېر ۱٦ تنه وو او د زده کوونکو شمېر يې ۱۸۰ تنو ته ورسېد چې د پښتو ادبياتو، رياضي، ديني علومو او ساينس په برخه کې يې زده کړې کولې.
د دغه دارالمعلمين رييس دادالله وايي، کال په کال يې د استادانو، زده کوونکو او څانگو شمېر زيات شوی دی چې په ۱۳۹۰ لمريز کال کې د نورستان د دارالمعلمين د زده کوونکو شمېر ۲۰۰ تنو ته ورسېد چې د پښتو ادبياتو، رياضي، ديني علومو، ټولنيزو علومو، ساينس او انگليسي په برخه کې يې زده کړې کولې. دادالله وايي، په همدې کال کې د دغه دارالمعلمين دوې نورې مرستندويې برخې هم جوړې شوې چې په هغو کې يې هم زده کوونکي جذب کړل او زده کړې يې پيل کړې.
نوموړی وايي، قومي مشرانو او په ټوله کې د نورستان خلک دې ته لېواله دي چې دغه ولايت هم د يوه پوهنتون درلودونکی شي او په دې اړه يې تر اوسه ډېرې هلې ځلې هم کړې دي، خو مثبته پايله يې لا نه ده تر لاسه کړې. دی وايي، د نورستان وکيلانو هم ورسره پر خپل وخت غوړې وعدې کړې دي، خو د کلونو په تېرېدو سره يې لا هم خپلې وعدې نه يوازې د پوهنتون، بلکې د روغتيايي اسانتياوو، سړکونو او نورو ټولنيزو برخو کې هم نه دي پوره کړې.
د نورستان د دارالمعلمين رييس دادالله وايي، دارالمعلمين يې تر يوې کچې پورې امکانات لري چې د زده کوونکو ستونزې حل کړي، خو په خبره يې، لا تر اوسه داسې امکانات نه دي برابر شوي چې يو دارالمعلمين يې بايد ولري. دی وايي، کتابتون لري، خو په کافي اندازه کتابونه پکې نشته، ليليه لري، خو هغه ډول چې لازمه ده زده کوونکو ته د ژوند ټولې اسانتياوې په پام کې نه دي نيول شوې. دی وايي، دا چې نورستان يو غرنی ولايت دی، نو ډېری محصلين چې دغه دارالمعلمين ته بريالي شوي هم وي، زړه نه ښه کوي چې دغه ولايت ته ولاړ شي.
د نورستان دارالمعلمين اوسمهال ۲۵ استادان لري چې له دې ډلې يې لس د ماسټرۍ تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. د دغه دارالمعلمين رييس وايي، ولسمشرۍ ماڼۍ امر کړی، هغه ولايتونه چې تر اوسه پورې دولتي پوهنتون او يا هم د لوړو زده کړو موسسه نه لري، دارالمعلمين يې بايد پر پوهنتون بدل شي. دی وايي، ټول چارواکي يې همدې ته په تمه دي او کومه ځانگړې هڅه يې نه ده کړې.
لکه څه ډول مو چې مخکې ووېل، نورستان د افغانستان يوازينی هغه ولايت دی چې تر اوسه پورې پکې دولتي پوهنتون او يا هم د لوړو زده کړو موسسه نه ده جوړه شوې. د دغه ولايت خلک له لوړو زده کړو وزارت او په ټوله کې له افغان حکومت څخه غواړي چې له ولايتونو سره بايد د مور او ميرې چلند ونه شي او ټولو ته په يوه سترگه وکتل شي او متوازن انکشاف وکړي. د دغه ولايت خلک وايي، داسې ولايتونه شته چې له ولايت کېدو يې ان د گوتو په شمېر کلونه لا نه دي تېر شوي، خو اوس د دولتي لوړو زده کړو موسسو درلودونکي دي، خو نورستان چې پخوا لا ولايت شوی دی، تر اوسه پورې له دولتي پوهنتون او يا د لوړو زده کړو له موسسې بې برخې دی. دوی يو ځل بيا له اړوندو چارواکو او مسوولينو غواړي چې په دې برخه کې د دوی پر حق سترگې پټې نه کړي او هر اړخيزه پاملرنه ورته وکړي.
د دغه ولايت په اړه نور معلومات:
نورستان دافغانستان له شمال ختيځو ولايتونو څخه دی، دا ډېره تاريخي سيمه ده او په مختلفو دورو کې په بېلابېلو نومونو ياد شوی دی. د جغرافيايي موقعيت له مخې، نورستان غرنۍ سيمه ده، په پخوانيو زمانو کې دا سيمه د کافرستان ترڅنگ د بلور يا بلورستان په نومونو ياد شوې ده، بلوريان يوازې د نورستان سيمه نه، بلکې د کونړ، چترال او کاپيسا ځيني سيمې هم په بلورستان ولايت پورې تړلې وې. په ۱۱۷٤ لمريز کال کې د افغانستان پاچا امير عبدالرحمن خان تر نظامي عملياتو وروسته دغه سيمه ونيوله او د افغانستان برخه يې وگرځوله، په هغه زمانه کې هم دا سيمه د بلورستان او کافرستان په نومونو يادېده، وروسته د دې سيمې ټول خلک مسلمانان شول او اوس دا سيمه د نورستان په نامه يادېږي. د نورستان ولايت ډېرې برخې درې، غرونه او غونډۍ دي، داسې پراخه ځمکه پکې نشته چې ورته ميدان يا دښته وويل شي، ډېرې کمې کرنيزې ځمکې لري. په دغه ولايت کې څو سيندونه هم بهېږي چې د لرگيو پلونه پرې جوړ شوي دي. د دغه ولايت مرکز پارون دی، نورستان ۹۲٦۷ کيلومتره مربع مساحت لري او شاوخوا څلور سوه زره نفوس لري، خو اوس يې ډېری اوسېدونکي په ننگرهار، کونړ او لغمان ولايتونو کې مېشت دي. د دغه ولايت د اوسېدونکو اصلي ژبه نورستاني ده، ۱۵ سلنه وگړي يې په پشه يي ژبه خبرې کوي او يو سلنه يې پښتانه دي، دغه راز ځيني برخې يې تاجک هم دي. خو اداري ژبه په دغه ولايت کې پښتو ده.
د دغه ولايت شمال ته بدخشان ، ختيځ ته يې د پاکستان د چترال او کشمير سيمې، سوېل ته يې کونړ او لوېديځ ته يې پنجشېر، کاپيسا او لغمان ولايتونه پراته دي. په نورستان کې تر دې مهاله شاوخوا ۲۱۱ ښوونځي موجود دي چې دوې پکې لېسې، ۱۱۷ لومړني او ۹۲ منځني ښوونځي دي. د نورستان ډېری برخې په ځنگلونو پوښلې دي، کرنيزې ځمکې پکې کمې دي، په ځنگلونو کې يې د جلغوزو، چهارمغزو، ارچې، نښترو، بلوط، شيشم، گل بيد، چنار، نيمه چنار او ځيني نورې ونې هم شته. په لوېديځ نورستان ولسوالۍ نورگرام کې د تازه مېوو باغونه هم شته او د دغه ولايت ډېر خلک پر مالدارۍ هم بوخت دي. د دغه ولايت خلک او په ځانگړې توگه ښځې يې پر لاسي صنعت لگيا دي، دوی پشمي او نخي رختونه گنډي او له هغو څخه بيا سيمه ييزې جامې جوړوي. د دې ترڅنگ د څارويو له څرمنو څخه هم جامې او نور توکي جوړوي. په نورستان کې کانونه ډېر دي چې په غير فني او غير قانوني توگه ويستل کېږي. تر اوسه پورې په دغه ولايت کې کومه فابريکه فعاليت نه کوي، چارواکي يې وايي چې په دغه ولايت کې د فابريکو او صنعت لپاره ډېر ښه چاپېريال موجود دی، خو تر اوسه پورې هېڅ کوم پانگوال په دغه ولايت کې پانگونه، نه ده کړې. په نورستان کې يوازې پکولونه او چپنې په شخصي ډول جوړېږي چې په دغه ولايت کې ترې ډېره گټه اخيستل کېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۳۵ |
| € | ۸۵,٦۰ |
| Rp. | ۵۳٦ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٦,٤۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - دهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - دهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنی شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# افسردگی پنهان چیست و چه علائمی دارد؟

ترجمه: فایز کریمی

بسیاری از افراد می کوشند افسردگی‌شان را پنهان کنند. کسانی که به افسردگی پنهان دچارند، به راحتی می‌توانند افسردگی خود را از دیگران مخفی کنند، به‌طوری که کسی متوجه وضعیت شان نشود. این افراد پشت نقابی از شادی و خوشحالی، چهره افسرده خود را می‌پوشانند. مبتلایان به افسردگی پنهان نمی‌خواهند، شدت مشکل خود را بپذیرند. آنها فکر می کنند که اگر سرگرم زندگی عادی شوند، افسردگی به مرور زمان از بین می‌رود. در برخی موارد، چنین چیزی امکان‌پذیر است؛ اما برای بیشتر افراد، نتیجه پیگیری‌نکردن افسردگی پنهان، چیزی جز تداوم احساس تنهایی و غم نخواهد بود.

**نشانه‌های افسردگی پنهان**

پنهان کردن افسردگی، یکی از روش‌هایی است که بسیاری از مبتلایان دنبال می‌کنند. آنها از احساسات خود سخن نمی‌گویندونمی‌خواهندبار مشکلات‌شان را به‌دوش دیگران انتقال دهند. اما شما به اطرافیان خود دقت کنید و ببینید که اگر در میان رفتارهای آنها یکی از علائم زیر دیده می‌شود، احتمالاً به افسردگی پنهان دچار هستند و تلاش می کنند تا چیزهایی را از شما پنهان کنند. در ادامه به ٦ علامت افسردگی پنهان اشاره می کنیم:

**۱- بروز عادت‌های جدید و غیرعادی در خواب و خوراک**

تغییر عادت‌های همیشگی یک فرد در زمینه خوردن و خوابیدن، نشان می‌دهد که مشکلی رخ داده است. خواب، بنیان سلامت جسمی و روحی است. چنانچه شخصی از اطرافیان‌تان به‌خوبی نمی‌خوابد؛ یعنی یا نمی‌تواند به خواب برود یا بیش از حد معمول در طول روز می‌خوابد، احتمال دارد که دچار افسردگی پنهان شده باشد. افسردگی پنهان در برخی دیگر از افراد به شکل مصرف غیرعادی الکول وغذا بروز می کند. افراد افسرده برای پرکردن خلاهای درونی خود، به پرخوری روی می‌آورند. مصرف نوشیدنی‌های الکولی هم راهی برای دورکردن غم و تنهایی ناشی از افسردگی است. البته بروز رفتارهای غیرعادی در زمینه خوردن و خوابیدن فقط به شکل زیاده‌روی بروز نمی‌کند؛ بلکه برخی افراد مبتلا به افسردگی پنهان، دچار کم خوابی می‌شوند یا میل و اشتیاق‌شان را نسبت به خوردن از دست می‌دهند؛ زیرا هیچ احساس شادی و لذتی به آنها دست نمی‌دهد و خوردن و خوابیدن به نظرشان بی‌معنا می‌شود.

**۲- بهانه تراشی و پنهان‌شدن پشت نقاب شادی**

همه ما با افرادی روبه رو شده‌ایم که کوشیده‌اند احساسات حقیقی‌شان را پشت نقابی از شادی پنهان کنند. این رفتار تا حدی در همه ما وجود دارد؛ اما اگر با فردی که به افسردگی پنهان دچار شده، بیشتر هم‌نشینی کنید، این نقاب به‌مرور قدرتش را از دست می‌دهد و پرده از راز فرد برمی‌دارد. دقیقاً به همین خاطر است که افراد مبتلا به افسردگی، تمایل چندانی به معاشرت با دیگران ندارند و فقط در مواقع ضروری با دیگران ارتباط برقرار می کنند. در نتیجه، همیشه بهانه‌ای برای به هم‌زدن قرار شام، شرکت نکردن در مهمانی و رفت‌وآمد با دیگران مطرح می کنند. کشف چهره اصلی افسردگی از پشت نقاب شادمانی ساختگی، کار دشواری است. گاهی اوقات، با شکل‌گرفتن یک فضای صمیمی و صادقانه میان شما و فرد افسرده، بخشی از افسردگی او نمایان می‌شود.

**۳-فلسفه‌بافی‌های غیرعادی**

افرادی که افسردگی خود را پشت نقاب شادی پنهان می کنند، در گفت‌وگوهای خود با شما معمولاً به سراغ موضوعات فلسفی می‌روند. یعنی هموضوعاتی که معمولاً درباره آنها صحبت نمی کردند. مثلاً احتمال دارد به سراغ موضوعاتی مانند معنای زندگی یا دستاوردهای خود در زندگی بروند؛ حتی ممکن است به مقوله‌ای مانند خودکشی هم بپردازند و مثلاً از افکار گاه‌به‌گاه‌شان درباره آسیب‌زدن به خود و مردن صحبت کنند. جست‌وجوی شادی و یافتن مسیری برای خوشبختی هم از موضوعات دیگری است که احتمالاً فرد افسرده در فلسفه‌بافی‌هایش با شما مطرح می کند. چنین مباحثی نشان می‌دهد که فرد از درون با افکاری سیاه دست‌وپنجه نرم می‌کند؛ افکار سیاهی که جرئت مطرح‌کردن آنها را ندارد.

**۴- درخواست کمک و سپس پس‌گرفتن این درخواست**

مبتلایان به افسردگی پنهان، تلاش زیادی برای مخفی‌نگه داشتن مشکل خود از دیگران می‌کنند. اما گاهی اوقات، این مقاومت در پنهان‌کاری را کنار می‌گذارند و با شخصی دیگر درباره مشکل‌شان صحبت می‌کنند. حتی ممکن است قدمی برای رفع مشکل بردارند و برای دیدار با مشاور یا درمانگر پا پیش بگذارند. حتی تعداد انگشت‌شماری از بیماران افسرده، حاضر به شرکت در نخستین جلسه درمان هم می‌شوند. اما این اقدام‌ها تداومی ندارد و فرد پس از مطرح‌کردن مشکلش، به سرعت پشیمان می‌شود و احساس می کند که زیاده‌روی کرده است. چنین فردی بر این باور است که کمک گرفتن برای بهبودی به معنای پذیرش افسردگی است. بیشتر افراد مبتلا به افسردگی چنین رفتاری دارند و دوست ندارند که با پیگیری درمان، بیماری را بپذیرند؛ ضمن اینکه احساس می کنند، هیچ‌کس نباید ضعف‌شان را ببیند.

**۵- ابراز احساسات به‌شکلی اغراق‌آمیز و شدید**

احساسات افراد مبتلا به افسردگی پنهان به شکلی قوی‌تر و شدیدتر نسبت به دیگران بروز پیدا می کند؛ مثلاً شخصی که به‌طور عادی، برای صحنه‌های یک فلم، گریه نمی کند چنانچه به افسردگی پنهان دچار باشد، با دیدن صحنه‌های تلخ و ناراحت‌کننده، زیر گریه می‌زند؛ یا اگر این فرد در دوران سلامت، به‌ندرت دچار عصبانیت می‌شده، در دوران افسردگی به محرک‌ها شدیدتر پاسخ می‌دهد. فرضاً، اگر راننده‌ای در سرک، مسیرش را سد کند، عصبانیتی فراتر از خشمی عادی از خود بروز می‌دهد. درباره ابراز محبت هم برخی افراد افسرده، اغراق می کنند. این افراد می کوشند تا احساسات ناشی از افسردگی خود را شدیداً کنترل کنند و به همین خاطر، احساسات و عواطف دیگرشان به‌شدت غلیظ و پرشور ابراز می‌شود.

**٦- نگاهی به دور از خوش‌بینی به مسائل**

روان‌شناسان، به داشتن نگاهی با میزان خوش بینی اندک، «واقع‌بینی افسردگی» می‌گویند. وقتی شخصی دچار افسردگی پنهان می‌شود، به دنیای پیرامون خود و آثار خود بر آن، نگاهی همراه با واقع‌بینی پیدا می‌کند. این در حالی است که افراد سالم معمولاً به قضایا خوش‌بین‌تر می‌نگرند و انتظاراتی بیش از ظرفیت‌های واقعی دنیا و خود در نظر دارند. برای نمونه، افراد سالم، از عملکرد خود در انجام کارهای گوناگون رضایت بیشتری نسبت به افراد افسرده دارند؛ این افراد، نگاه‌شان همراه با خوش‌بینی است اما در واقع، آن‌قدر هم که فکر می‌کنند، خوب عمل نکرده‌اند.

واقع‌بینی افسردگی معمولاً به‌عنوان نشانه‌ای از افسردگی نمایان نمی‌شود؛ زیرا واقع‌گرایی موجود در رفتار چنین فردی، بسیار عادی‌تر از رفتار فردی است که دچار بیماری افسردگی است. مثلاً وقتی فرد افسرده، پس از چهار بار تلاش برای دریافت ترفیع و ارتقا، همچنان موفق به کسب آن نشده است، رفتاری متفاوت با فردی سالم در این باره از خود نشان می‌دهد. فرد سالم در این مواقع می‌گوید: «این بار دیگر ترفیع می‌گیرم» اما فرد افسرده می‌گوید: «دوباره تلاشم را می‌کنم؛ اما احتمال دریافت ترفیع چندان قوی نیست».

**نشانه مهم: خشم و زودرنجی**

برخی افراد افسرده در ظاهر تفاوتی با دیگران ندارند. البته بروزنکردن نشانه‌ای مبنی بر افسردگی تا حد زیادی به توانایی آن فرد در پنهان‌کردن عواطف و مدیریت احساساتش هم وابسته است؛ اما اگر فردی مدام در برخورد با افراد مختلف دچار خشم و زودرنجی می‌شود، باید به وجود افسردگی پنهان در او شک کرد.

## طالبان: له امریکایي استازي سره په اسلام اباد کې خبرې نه کوو

طالبانو د افغان سولې لپاره د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره د خبرو د لړۍ د بیا پیلولو په اړه رپوټونه رد کړي دي.

طالبانو د پاکستاني رسنیو هغه رپوټونه رد کړي چې ګواکې دوی د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره د خبرو لړۍ ته دوام ورکوي او یو ځل بیا یې ویلي چې له افغان حکومت سره مستقیمې خبرې نه کوي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې پاکستاني رسنیو رپوټ ورکړی و چې د خلیلزاد او عمران خان په ګډون د پاکستاني چارواکو ترمنځ له خبرو وروسته به په اسلام اباد کې د طالبانو او امریکا ترمنځ خبرې وشي.

رویټرز خبري اژانس د طالبانو د لوړپوړو چارواکو له خولې ویلي چې د پاکستان په ګډون سیمه ییزو قوتونو له طالبانو غوښتي چې په اسلام اباد کې له امریکایي پلاوي سره وګوري او د افغانستان حکومت هم د سولې په پروسه کې شامل کړي، خو طالبانو دغه غوښتنه رد کړې ده.

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد په اعلامیه کې ویلي: «غواړو روښانه کړو چې په اسلام اباد کې د زلمي خلیلزاد سره هېڅ ډول خبرې نه کوو».

یو لوړپوړي طالب چارواکي د نوم نه ښودو په شرط رویټرز خبري اژانس ته ویلي: «موږ په وار وار دا څرګنده کړې چې هېڅکله به د افغانستان له حکومت سره خبرې ونه کړو. ځکه پوهېږو چې هغوی زموږ غوښتنې نه شي پوره کولای.»

طالبانو دغه راز ویلي، له امریکا سره په دې شرط د سولې خبرې بیا پیلوي چې د دوی په خبره، یوازې پر دریو مسایلو خبرې وشي. په دغو دریو موضوعاتو کې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو وتل، د بندیانو تبادله او د طالبانو پر مشرانو باندې د بندیزونو لرې کول شامل دي.

## د کوچیانو معترض نوماندان: په ټاکنیزه حوزه کې مو ۷۰ سلنه رایې خیالي دي، د ټاکنو پایلې نه منو

د کوچیانو معترض نوماندان وايي، د ټاکنو پایلې نه منو؛ ځکه چې د دوی په ټاکنیزه حوزه کې د کارول شویو رایو ۷۰ سلنه یې خیالي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د مرغومي په ۲۴مه د کوچیانو له حوزې څخه د مخکښو نوماندانو نوملړ اعلان کړ.

د لومړنیو پایلو د اعلان پر بنسټ، الحاج شاه وزیر تره‌خېل، حبیب الرحمن افغان، میرویس حسین‌خېل، ننګیالی لونګ، حاجي پرویز عرب زاده، الحاج حیدر جان نعیم زوی، رسول خان کوچی، حمیده احمدزۍ، مریم سلېمان‌خېل او فرزانه کوچۍ د کوچیانو له حوزې څخه ولسي جرګې ته بریالي شوي دي.

د کوچیانو دغه معترض نوماندان او د هغوی پلویان تېره ورځ په کابل کې د اعتراض په ډول راټول شوي وو او ګوابښ یې وکړ چې د دوی د حوزې ټاکنې له درغلیو ډکې او د کمېسیون اوسنۍ پرېکړه دوی ته د منلو نه ده.

د دغو نوماندانو له ډلې څخه، ذوالفقار ستانکزي ویلي چې د کوچیانو د پاکو رایو د دفاع په حرکت کې د کوچیانو د حوزې ۳۰ نوماندان غړیتوب لري چې له دې ډلې څخه مریم سلېمان‌خېل او فرزانه کوچۍ د کوچیانو په حوزه کې د مخکښو نوماندانو په ډله کې راغلي دي.

د ده په خبره، د کوچیانو له ۱۵۱۵ محلونو څخه په ۶۰۴ محلونو کې رایې کارول شوې دي، خو له یادو محلونو څخه په ۱۹۹ محلونو کې خیالي او تزویري رایې د ځانګړو نوماندانو په ګټه کارول شوې دي.

نوموړي زیاته کړې: «موږ په اوله ورځ هم ویلي وو چې د کوچیانو په حوزه کې له ۱۸ تر ۲۰ زرو رایې کارول شوې چې پاکې او سپېڅلې رایې دي. ولې نن د ټاکنو د کمېسیون په سیستم کې ۶٦٤۷۰ رایې سیستم ته دننه شوې دي چې له دې جملې ۴٦ زره رایې خیالي، تقلبي او تزویري رایې دي.»

ستانکزي ویلي: «د انتخاباتو په کمېسیون کې د مافیا یو باند موجود دی چې د مشخصو نوماندانو لپاره یې جعلي، تزویري او تقلبي صندوقونه ډک کړل او دلته یې سیستم ته اوچت کړل».

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
Daily
New Vision, New Journey




یکشنبه د ۱۳۹۷ د مرغومې ۳۰مه | د ۲۰۱۹ د جنوري ۲۰مه | دویم کال | ۳۲۰مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۳ | ۸ | ۱۳ | ٤ | ۱۵ | ۹ |
| ۱۰ | -٤ | -۲ | -۱ | ٦ | -۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:٤٦ | لمر ختل ۰۷:۱۱ | ماسپښین ۱۲:۲۱ | مازیګر ۰۳:۵۳ | ماښام ۰۵:۳۱ | ماخوستن ۰٦:۵۷

## نړۍ




### د بشري حقونو د څار اداره:
## په پاکستان کې هر کال نږدې زر تنه د غیرت په نوم وژل کېږي



د بشري حقونو د څار نړیواله اداره وایي، په پاکستان کې هر کال د غیرت په نوم کابو زر کسان وژل کېږي.
دې ادارې په خپل راپور کې ویلي چې د ښځو پر مخ د تېزابو شیندل، فزیکي تاوتریخوالی، په زور او کم عمر کې د نجونو ودول لا هم په پاکستان کې د ښځو پر وړاندې له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي.
په دغه هېواد کې د بشري حقونو فعالې شاد بېګم د امریکا غږ ډیوې څانګې ته ویلي چې دې ډول پېښو د زیاتېدو لامل د پاکستان په ملي شورا کې د تصویب شوو قوانینو نه عملي کېدل دي.
دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ د بشري حقونو د څار ادارې په خپل راپور کې ویلي چې د تېر ۲۰۱۸ ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د غیرت په نوم تر ټولو زیاتې ښځې چې شمېر ٦٦ تنو ته رسېږي، یوازې په پنجاب ایالت کې وژل شوې دي.
یادې ډلې دغه راز ویلي چې په دغه هېواد کې په کم عمر کې د نجونو ودول لاهم لویه ستونزه ده چې ۲۱ سلنه نجونې تر ۱۸ کلونو په کښته عمر کې ودېږي.
د ماشومانو پر وړاندې د جنسي تېري په اړه په دغه راپور کې ویل شوي چې د ۲۰۱۸ ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په پنجاب ایالت کې د ۷۷ نجونو په ګډون پر ۱۴۱ ماشومانو باندې جنسي تېری شوی دی.
په راپور کې وړاندې راغلي، په دغه هېواد کې له ۵۰ لکو زیات ماشومان له لومړنیو زده کړو بې برخې دي چې لویه برخه یې نجونې جوړوي.

## بلغاریا له تروریستانو سره په مالي مرسته تورن ۴۳ کسان نیولي دي



د بلغاریا ځانګړو پولیسو په دغه هېواد کې د ګډو عملیاتو پر مهال یوه ډله افشا کړې چې له دغه هېواده له بهرنیو تروریستانو سره په مالي مرسته تورنه ده او په دې تړاو یې ۴۳ کسان نیولي دي.
د دغه هېواد د لویې څارنوالۍ مرستیال ایوان ګشیف ویلي چې په نیول شوو کې یو مشکوک کس د سوریې دی چې په بلغاریا کې یې دایمي اقامت درلود او ویل کېږي چې له هېواده د باندې یې د سخت دریځو وسله والو لپاره پیسې انتقالولې.
ګشیف په خبري کنفرانس کې د مشکوکو کسانو د هویت او په دې اړه چې څومره پیسې یې انتقال کړې دي، څه نه دي ویلي، خو نوموړي زیاته کړې چې دا پیسې سخت دریځو ته د حوالې له لارې لېږل شوې دي.
د نوموړي په خبره، په ځینو اروپایي هېوادونو کې تر یو کال پلټنو وروسته دا ډله په بلغاریا کې د قانون منګولو ته سپارل شوې ده.
د یادونې ده کله چې په عراق او سوریه کې د داعش ډلې له لوري زیاتې سیمې ونیول شوې، هغه مهال له بهر څخه په زیاته کچه سخت دریځې ډلې ورته راغلې چې د بلغاریا اوسېدونکي هم پکې وو.


## هزاران تن در بلخ به دلیل جنگ و ناامنی بی‌سرپناه و آواره شده‌اند



جنگ و ناامنی در ولایت بلخ هزاران خانواده را بی‌سرپناه و آواره ساخته است.
ساکنان ولسوالی‌های چهاربولک و چمتال این ولایت می‌گویند که پس از حملات گروهی طالبان بر پوسته‌های نیروهای امنیتی، عملیات ولید ۳۴ در این مناطق آغاز شده و اما خیلی به کندی به پیش می‌رود.
ساکنان این ولسوالی‌ها می‌گویند که در جنگ میان نیروهای افغان و شورشیان طالب به افراد ملکی نیز تلفات وارد شده است و هزاران تن در این مناطق مجبور به ترک ساحات مسکونی خود شده اند.
ساکنان ولسوالی چهاربولک می‌گویند که طالبان مسلح از حدود دو هفته به اینسو ۹۰ درصد خاک این ولسوالی را در تصرف خود گرفته اند و نیروهای امنیتی تنها در مرکز این ولسوالی حاکم هستند.
باشنده‌های ولسوالی چمتال نیز مدعی اند که از نزدیک به ۱۰ روز طالبان مسلح بر چندین پوسته نیروهای پولیس محلی در این ساحه حملات تهاجمی انجام داده و تلفات سنگین بر این نیروها وارد کرده‌اند.
آنان مدعی اند که عملیات آغاز شده سرکوب طالبان توسط قوت‌های افغان خیلی به آهستگی به پیش می‌رود.
در این حال مقامات امنیتی بلخ با پذیرش کندی در عملیات آغاز شده «ولید ۳۴» در ولسوالی‌های چمتال و چهار بولک می‌گویند که بر اساس پلان طرح شده امنیتی عملیات خود را به پیش می‌برند و هدف اساس از این کار نابودی کامل شورشیان طالب در این ساحات بدون متحمل شدن تلفات ملکی است.
بر اساس معلومات، در جریان دو هفته گذشته در اثر حملات تهاجمی طالبان در ولسوالی‌های چمتال و چهاربولک بشمول ۵ نیروی پولیس ملی نزدیک به ۳۰ پولیس محلی کشته شدند.
مقامات امنیتی مدعی اند که در این مدت بیش از ۴۰ طالب مسلح کشته شده و ده‌ها تن دیگر مجروح اند.
طالبان تا کنون در رابطه به عملیات «ولید ۳۴» تبصره نکرده‌اند.

## ژوند

## خیال خواري غواړي!



دا د ټولو غوښتنه ده چې د مخ پوست یې ښکلی او شفاف وي. که تاسو هم غواړئ، نو دغه اووه ټکي په پام کې ونیسئ.
**۱- با کیفیته مواد وکاروئ:** د مخ مینځلو لپاره هغه محصولات وکاروئ چې په یو ځل کارولو سره مو مخ ښکلی شي. ګرد او دوړې ترې پاکې شي، خو د مخ اصلي او طبیعي غوړ یې له منځه ولاړ نه شي.
**۲- په کمه اندازه له صابونه ګټه واخلئ:** هڅه وکړئ په یوه شپه او ورځ کې د مخ د مینځلو لپاره دوه یا درې ځلې صابون او یا دې ته ورته څه وکاروئ، که له دې زیات شي، مخ مو خپل طبیعي حالت له لاسه ورکوي.
**۳- د اوبو تودوخه په پام کې ونیسئ:** د مخ مینځلو لپاره معتدلې اوبه وکاروئ، ډېرې یخې اوبه مو د مخ پر پوست شته سوري بندوي.
**۴- مخ مو سم ومینځئ:** د مخ مینځلو پر وخت هڅه وکړئ تر هغه وخت مخ ته اوبه ور واچوئ ترڅو په سم ډول پاک شي.
**۵- هغه مواد وکاروی چې حساسیت ورسره نه لری:** دېته مو هم باید پام وي، هغه مواد چې تاسو یې د مخ مینځلو لپاره کاروئ، له مخ سره مو باید سازګاري ولري، که داسې نه وي، کېدای شي له حساسیت سره مخ شی.

## د دغو خوړو زیات خوراک مو فشار لوړوي



په امریکا کې ترسره شوې یوې نوې څېړنې ثابته کړې چې د کچالو له اندازې ډېر خوړل انسان د وینې پر لوړ فشار اخته کولی شي. د هاروډ میډیکل سکول او بریګم اینډ ویمن هسپیټال له خوا ترسره شوې څېړنه کې ویل شوي چې د دغو نشایسته لرونکو خوړو ډېر خوراک د وینې فشار او ۱۱ سلنه د دې ناروغۍ خطر لوړوي.
په څېړنه کې د دغو خوړو د استعمال د طریقې په اړه څه نه دي ویل شوي، خو روغتیایي څېړونکي او کارپوهان پر دې باور دي چې په غوړیو کې پخول یې د فشار د ناروغۍ خطر د نورو طریقو په پرتله ډېر زیاتولای شي.
څېړونکو د څېړنې د ترسره کولو لپاره له خلکو پوښتلي چې څو ځلې چپس خوري؟ څرګنده شوې چې په اونۍ کې څلور ځلې د چپس خوراک د وینې د لوړ فشار خطر ۱۷ سلنه زیاتوي.
په څېړنه کې ویل شوي چې په کچالو کې د جي ای په نوم مواد شته چې د وینې د فشار د لوړېدو لامل کېږي. جي ای لرونکي خواړه بدن ته له ځنډ پرته انرژي ورکوي او د وینې شکر په چټکۍ سره زیاتوي، هغه چې د وینې پر فشار بدلېږي.